# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# د جدون وړوکے فوج

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.





د یشوع د مرګ نه
پس، د بنی اسرائیلو
ټولو خلقو د خدائ
پاک نافرمانی وکړه او د
خپل ژوند نه یې خدائ
پاک وویستلو. خدائ
پاک د بنی اسرائیلو
کورونه

او فصلونه د هغوئ
ګاونډیانو میدیانیانو له په لاس
تباه کوی. او اسرائیلیان به په
غارونو کښې اوسېدل.



یو بنی اسرائیلے چې نوم یې جدعون
وو هغه سره د غنمو د پاره یو پټ
ځائ وو. هغهٔ د یوې غټې ونې ل
اندې د انګورور په لنګرئ کښې
غنم ټکول. میدیانیانو
ته د دې ځائ
پته نهٔ وه. خو خدائ پاک
یوه فرښته جدعون
ته د پیغام د پاره
راولیږله.

3



خدائ پاک غوښتل چې جدعون د خپل پلار د دروغژن
معبود تصویر تباه کړی. او د رښتینی خدائ پاک د پاره یوه
قربان ګاه جوړه کړی. اګر چې جدعون ویرېدو چې د هغهٔ د
وطن خلق به هغه ووژنی، خو هغهٔ بیا هم هغه څهٔ وکړل د
څهٔ چې ورته خدائ پاک حکم ورکړے وو.

4



خدائ پاک دا هم غوښتل چې جدعون د بدکاره میدیانیانو
خلاف د بنی اسرائیلو د فوج مشری وکړی. خو جدعون
ویرېدو. هغهٔ یوه خاص نښه وغوښتله چې خدائ پاک هغهٔ
سره دے. بیا هغهٔ د ګډ واړئ په زمکه باندې کېښوده.

5



جدعون دعا وکړه، چې
اے خدایه پاکه زهٔ به
دا وړئ په درمند
کښې خوره کړم،
کهٔ چرې سبا
سحر صرف
په دې وړئ
باندې پرخه وه او
نوره زمکه اوچه وه، نو بیا به ما ته
پته ولګی چې د بنی اسرائیلو بچ کولو د پاره به
تهٔ ما استعمالوې. نو چې کله په بله ورځ سحر هغه
پاڅېدو نو نوره زمکه اوچه وه او وړئ لونده وه.

6



خو د جدعون اوس هم شک وو، اوس هغهٔ
غوښتل چې خدائ پاک دې اوس په زمکه
باندې پرخه اوروی خو په دې وړئ باندې
نه، نو په ورپسې سحر زمکه په پرخه
لونده وه، او وړئ اوچه وه.

7




جدعون په سره په شروع کښې دوه دېرش زره فوجیان وو.
خدائ پاک هغهٔ ته ووئیل چې تهٔ درې سوه سړی ځان سره
کړه او نور لرې کړه. خدائ پاک دا نهٔ غوښتل چې بنی
اسرائیلیان دا ووائی چې هغوئ د خپلو لاسونو په زرو
باندې خپل ځانونه بچ کړل. ځکه چې صرف خدائ
پاک بنی اسرائیل
بچ کولے شی.

8

جدعون ته دا پته وه خو بیا هم هغه ویرېږدو، نو بیا خدائ پاک جدعون ته د میدیانی سپاهی خو واورولو، چې هغهٔ وئیل چې ما یو خوب لیدلے دے چې یوه روټۍ د میدیانیانو په خیمه باندې را وغورزېدله او هغه یې تباه کړه.



9

هغه دوېم سپاهی ډېر ویرېدو. او هغه ووئیل چې دا د جدعون تُوره ده. نو چې کله جدعون خوب او د هغې مطلب واورېدو نو هغهٔ ته پته ولګېده چې خدائ پاک به هغهٔ له کامیابی ورکوی.



10

جدعون د شپې د حملې کولو منصوبه جوړه کړه. او هغهٔ هر یو سپاهی له یو بیګل او یو منګے او چې په کښې به چراغ وو. او هغوئ د میدیانیانو فوج راګېر کړو.



11

د جدعون په اشاره سره سپاهیانو خپلې بیګلې وغږولې او منګې یې مات کړل، او چراغونه یې بل کړل. میدیانیان راویښ شول او وئیل یې چې دا شور د څهٔ دے! او دومره ګنه څهٔ کوی، هغوئ ټول ویرېدل او وتښتېدل.



12

د دې لوئې فتحې نه پس بنی اسرائیلو جدعون ته ووئیل چې تهٔ زمونږ حکمران شه. خو جدعون ورله جواب ورکړو، زهٔ به ستاسو حکمران نهٔ یم بلکې خدائ پاک به ستاسو حکمران وی. هغهٔ ته پته وه چې صرف خدائ پاک د خلقو په ژوند باندې د حکمرانی حق لری.



13

د جدون وړوکے فوج

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

قاضیان ٦ - ٨

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

14

# ختم شو

15

60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲